د فبرورۍ 25 مه، 2022

د لویدیځ میسا (West Mesa) عالي لېسې اړوند درنو کورنیو،

په ډېر ډک زړه او خواشینۍ سره نن سهار د لویدیځ میسا (West Mesa) عالي لیسې څخه د سرک په اوږدو کې د ډزو په اړه چې زموږ یو زده کوونکی پکې وژل شوی و، په اړه یې تاسو ته خبر درکوم. دا جلا پېښه د ښوونځي له ودانۍ څخه د باندې رامنځته شوې ده، او که څه هم زموږ زړونه په معنوي ډول زیانمن شوي دي، خو د زده کوونکو او کارکوونکو په ګډون نور هېڅوک په دې پېښه کې په فزیکي ډول نه دي زیانمن شوي.

کله چې موږ له ډزو څخه خبر ترلاسه کړ نو سمدستي مو ښوونځی په یو ځای کې ځای په ځای کړ ترڅو د احتیاطي اقدام په توګه د زده کوونکو او کارکوونکو له خوندیتوب څخه ډاډ ترلاسه کړو. یو څو شېبې وروسته، مو پرېکړه وکړه چې د دغې ورځې لپاره ښوونځی رخصت کړو ځکه چې پولیسو خپلو پلټنو ته دوام ورکړ. موږ غواړو د خپلو زده کوونکو او کارکوونکو څخه مننه وکړو چې په آرامۍ او په پوره نظم سره یې ښوونځی هغه مهال تخلیه کړ کله چې د دوی د سرپناه لپاره بل ځای برابر شو. موږ له اړونده کورنیو څخه مننه کوو چې ښوونځي ته راغلل او په پوره حوصلې سره یې انتظار کاوه چې خپل ماشومان کور ته ولېږدوي. موږ همدارنګه غواړو د ټولو APS او APD پولیسو افسرانو څخه مننه وکړو چې زموږ د ښوونځي چاپېریال د خوندي ساتلو لپاره راغلي وو.

دا چې دغه پېښه یوه فعاله څېړنه ده، نو لاهم ډېری پوښتني شتون لري چې موږ یې ځواب نه شو ځوابولی. که ستاسو ماشوم د پېښې په اړه معلومات ولري او غواړي چې په اړه یې له پولیسو سره خبرې وکړي، نو کولی شئ (242-2677) 242-COPS شمېرې ته زنګ ووهئ. همدارنګه ستاسو ماشوم په ښوونځي کې د ښوونکي، مشاور یا بل باور لرونکي بالغ سره د خبرو کولو اختیار هم لري.

د وېرې او خواشینۍ د لیرې کولو مشاورین به راتلونکي اوونۍ په ښوونځي کې وي، او د پولیسو شتون به هم ډېروالی پیداکړي. موږ غواړو چې هرڅوک خوندي او له ځانه د ملاتړ د درلودلو احساس وکړي.

د ښوونځي د ملګري د تاوتریخوالۍ اړوند زیان د زده کوونکو، د هغوی د کورنیو او ټولنې لپاره یوه ناوړه او دردناکه پدیده ده. د والدینو یا سرپرست په توګه، تاسو کولی شئ له خپل ماشوم سره د دوی د احساساتو په اړه خبرې وکړئ. یو له خورا ګټورو مواردو څخه چې تاسو یې په دې برخه کې ترسره کولی شئ هغه هم د خپل ماشوم د خبرو اورېدل دي. که ستاسو ماشوم غواړي چې درسره خبرې وکړي، په ساده او صادقانه توګه یې پوښتنو ته ځواب ووایاست. د ورته پوښتنو تکرار ته چمتو اوسئ.

دا ډول ناوره پېښې هره یوه په بیلابیلو لارو اغیزه کوي. دا چې ماشومان په دې برخه کې څه غبرګون ښیي هغه د دوی د عمر، مخکینۍ تجربې، او له ښکېلو کسانو د اړیکو په ګډون په ډېری نورو فکتورونو پورې اړه لري.

ستاسو ماشوم کېدای شي زیاتره لاندې غبرګونونه ښکاره کړي:

- بې اغیزې ښکاري شي
- د پېښې په اړه په مکرر ډول پوښتنې وکړي
- غوسه یا تېري کوونکو واوسي
- له خبرو ډډه کوي یا نا اشنا کړه وړه ولري
- خفه یا خواشینی وي
- وېرېدلی وي
- په خوب کولو یا خوراک کې مشکل ولري

د هغو کسانو لپاره ډېری اختیارونه شتون لري چې په دې اړه مرستې ته اړتیا لري. ستاسو یا ستاسو د ماشوم د ملاتړ لپاره یوه ارزښتناکه سرچینه د نوي میکسیکو د بحراني حالاتو د کنترول ځانګه ده چې د جواز لرونکو معالجینو له لوري پکې هر وخت اړونده خدمات وړاندې کیږي. تاسو کولی شئ دوی ته هر وخت په 855-662-7474 شمېره زنګ ووهئ یا د دوی له دغې وېب پاڼې څخه لیدنه وکړئ . www.nmcrisis.com

موږ له ټولو غمجنو او هر هغه چا سره چې د دغې ناوړه پېښې له امله په هره معنا زیانمن شوي د زړه له کومې خواخوږي څرګندوو. موږ به په لویدیځ میسا (West Mesa) عالي لیسه کې د زده کوونکو خوندیتوب ته د لومړیتوب ورکولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوو، او هر هغه څه به کوو چې له مخې کولی شو له دې ډاډ ترلاسه کړو چې زموږ زده کوونکي د ښوونځي په چاپېریال

کې د هوساینې او خوندیتوب احساس کوي. موږ ټول د دغې ډاډ په ترلاسه کولو کې مسوولیت لرو ترڅو زموږ ښوونځی د زده کړې لپاره خوندي ځای پاتې شي. په یاد ولرئ چې: که تاسو یو څه وینئ یا یې ګورئ، یا د یوه څه اړه نظر څرګندوئ. موږ ستاسو له یادې همکارۍ ستاینه کوو.

په درنښت،

Michele Torres، د لویدیځ میسا (West Mesa) عالي لیسې مدیره
Scott Elder، د البوکرک (Albuquerque) د دولتي ښوونځیو ناحیوي مدیر